امارت اسلامی افغانستان
اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث
ریاست اطلاعات و نشرات

هفته نامه
مدیریت حوادث

۱۲ الی ۱۷ میزان ۱۴۰۴

شماره یکصدو بیست و پنجم

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس په قطر کې مېشت د افغان سوداګرو له لوری د کونړ له زلزله ځپلو سره شوې نغدې مرستې په یاد هېواد کې د افغانستان اسلامی امارت له سفیر څخه ترلاسه کړې

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې لوی رئیس، محترم الحاج ملا نورالدین ترابی د قطر لپاره د افغانستان اسلامی امارت له سفیر محترم محمد سهیل شاهین سره د ۱۴۴۷ کال د ربیع الآخر ۱۱ نېټه په خپل کاری دفتر کې وکتل او له هغه څخه یې په قطر کې د افغان سوداګرو له لوری د کونړ ولایت له زلزله ځپلو سره شوې نغدې مرستې ترلاسه کړې.

په دې ناسته کې، محترم ترابی صاحب له افغان سوداګرو او کاریګرو څخه د قدردانۍ ترڅنګ وویل، چې د کونړ ولایت زلزله ځپلی خلک لا هم مرستو ته اړتیا لری او موږ په دې برخه کې اړین اقدامات ترسره...

ادامه در صفحه۲

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس د هېواد له اوولسو ملي سوداګرو څخه چې د کونړ د وروستۍ زلزلې له زیانمنو سره یې مرسته کړې وه ستاینه وکړه

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس، محترم الحاج ملا نورالدین ترابی د هېواد له هغو اوولسو ملي سوداګرو سره، چې د کونړ ولایت د وروستۍ زلزلې له زیانمنو سره یې د دې ادارې له لارې مرستې کړې وې...

ادامه در صفحه ۲

د پېښو چارو د همغږۍ معین د زابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست څخه څارنه وکړه او د دې ولایت له مقام دفتر رئیس سره یې وکتل

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې د پېښو چارو د همغږۍ معین، محترم الحاج ملا عبدالولي څارنوال (حاجی وارث)، د یو تخنیکی، فنی او مسلکی پلاوی په مشرۍ، د هېواد ولایتونو ته د رسمی سفر په دوام، له لغمان...

ادامه در صفحه ۳

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د ورلډ ویژن او اواک موسسو ترمنځ د ګډو همکاریو دوی تفاهم نامې لاسلیک شوې

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس، محترم الحاج ملا نورالدین ترابی د اواک موسسې د مرکزی او ختیځ زون له مسوول، محترم عبدالوارث کریمی او په کابل کې د ورلډویژن موسسې له مسوول، محترم عبدالوهاب...

ادامه در صفحه ۴

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس په قطر کې مېشت د افغان سوداګرو له لوری د کونړ له زلزله ځپلو سره شوې نغدې مرستې په یاد هېواد کې د افغانستان اسلامی امارت له سفیر څخه ترلاسه کړې

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې لوی رئیس، محترم الحاج ملا نورالدین ترابی د قطر لپاره د افغانستان اسلامی امارت له سفیر محترم محمد سهیل شاهین سره د ۱۴۴۷ کال د ربیع الآخر ۱۱ نېټه په خپل کاری دفتر کې وکتل او له هغه څخه یې په قطر کې د افغان سوداګرو له لوری د کونړ ولایت له زلزله ځپلو سره شوې نغدې مرستې ترلاسه کړې.

په دې ناسته کې، محترم ترابی صاحب له افغان سوداګرو او کاریګرو څخه د قدردانۍ ترڅنګ وویل، چې د کونړ ولایت زلزله ځپلی خلک لا هم مرستو ته اړتیا لری او موږ په دې برخه کې اړین اقدامات ترسره کړی او هڅه کوو چې د زلزله ځپلو لپاره نورې مرستې هم برابرې کړو. نوموړی وویل چې دا نغدې پیسې به د زلزله ځپلو اړتیاوو ته په کتو وکارول شی او همدارنګه یې په نورو سوداګرو او خییرو کسانو غږ وکړ چې د اړمنو خلکو د مرستې لپاره خپلې همکارۍ او ملاتړ ته دوام ورکړی.

ورته مهال، په قطر کې د افغانستان اسلامی امارت سفیر، محترم محمد سهیل شاهین، زیانمنو کسانو ته د رسېدنې، له ملی او نړیوالو مرستندویه موسسو سره د همغږۍ او تعامل، او د ادارې د وړتیا لوړولو په برخه کې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ادارې د فعالیتونو ستاینه وکړه او د دې ادارې هڅې یې اغېزناکې وبللې. نوموړی همدارنګه وویل چې له خپلې خوا به هڅه وکړی ترڅو د زلزله ځپلو لپاره نورې مرستې هم را جلب کړی.

د یادونې وړ ده چې د غونډې په پای کې د ۲۶,۳۰۰ ډالرو نغدی مرسته، چې په قطر کې مېشتو افغان سوداګرو او کاریګرو د کونړ ولایت د وروستیو زلزله ځپلو سره د مرستې لپاره راټولې کړې وه، د هیواد د سفیر له لوری له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ادارې لوی رئیس ته وسپارل شوه.

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس د هېواد له اوولسو ملي سوداګرو څخه چې د کونړ د وروستۍ زلزلې له زیانمنو سره یې مرسته کړې وه ستاینه وکړه

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې لوی رئیس, محترم الحاج ملا نورالدین ترابی د هېواد له هغو اوولسو ملی سوداګرو سره، چې د کونړ ولایت د وروستۍ زلزلې له زیانمنو سره یې د دې ادارې له لارې مرستې کړې وې, د ۱۴۴۷ کال د ربیع الآخر ۱۱ نېټه په خپل کاری دفتر کې وکتل او له هغوی څخه یې قدردانی او ستاینه وکړه.

په دې ناسته کې محترم ترابی صاحب وویل, چې د هېواد د سوداګرو پر وخت او مسؤلانه مرستې د طبیعی پېښو له زیانمنو سره د ملی یووالی او د خلکو پر وړاندې د مسؤلیت څرګندونه ده. هغه زیاته کړه چې اداره هڅه کوی ترڅو د خیر ښېګڼې او د زیانمنو د ملاتړ دغه بهیر په ټول هېواد کې لا پیاوړی او عملی کړی او د همدې لپاره نن له یو شمېر سوداګرو څخه چې د کونړ له زلزله ځپلو سره یې مرستې کړې دی, ستاینه کېږی.

په غونډه کې د هېواد یو تن ملی سوداګر ښاغلی سید احمد سیلاب د نورو سوداګرو په استازیتوب خبرې وکړې او د ادارې له قدردانۍ یې مننه وکړه. هغه ډاډ ورکړ چې ملی سوداګر به تل د زیانمنو خلکو د ملاتړ او له ادارې سره د همکارۍ لپاره حاضر وی. نوموړی زیاته کړه چې له زیانمنو سره مرسته کول ایمانی او وجدانی مسؤلیت دی او هڅه به وکړی چې تل د ستونزو پر مهال له خلکو سره ودرېږی.

په پای کې د دغو سوداګرو د مرستو او همکارۍ د ستاینې په پار له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې لوی رئیس هر یوه ته جلا ستاینلیک ورکړ. همدارنګه، سوداګرو د درناوی په دود محترم ترابی صاحب ته تحایف ورکړل او د عزت په نښه یې د نوموړی پر اوږه چپن کېښود.

د پېښو چارو د همغږۍ معین د زابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست څخه څارنه وکړه او د دې ولایت له مقام دفتر رئیس سره یې وکتل

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري د پېښو چارو د همغږۍ معین، محترم الحاج ملا عبدالولی څارنوال (حاجی وارث)، د یو تخنیکی، فنی او مسلکی پلاوی په مشرۍ، د هېواد ولایتونو ته د رسمی سفر په دوام، له لغمان، نورستان، کونړ، ننګرهار، بامیان، غور، دایکنډی، میدان وردګ، لوګر، پکتیا، پکتیکا، خوست او غزنی ولایتونو څخه د لیدنو وروسته، د ۱۴۴۷ کال د ربیع الآخر ۱۲ نېټه زابل ولایت ته ورسېد.

په پیل کې، د پېښو چارو د همغږۍ محترم معین د په پیل کې له محترم مولوی عتیق‌الله بدری، د دې ولایت د مقام دفتر رئیس، د زابل ولایت له پېښو د مبارزې آمادګۍ رئیس محترم الحاج مولوی عبدالله عابدی او ورسره مل هیأت په حضور کې وکتل. دغه ناسته د کلام‌الله مجید د څو مبارکو آیتونو په تلاوت سره پیل شوه.

په دې ناسته کې، د پېښو چارو د همغږۍ محترم معین د نورو ولایتونو د سفرونو یادونه وکړه او د سفر موخه یې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاستونو د عمومی وضعیت څېړل، د اسلامی امارت د عالی مقام مشرتابه د فرمانونو، احکامو او مکتوبونو د پلی کېدو څارنه، د مالی او اداری چارو ارزونه، د هوکړه لیکونو د پلی کېدو څارنه، د وقایوی پروژو ارزونه، د بشردوستانه مرستو د وېش تعقیبول، د ماین پاکۍ، د نشراتو چارو او همدارنګه د موجودو ستونزو او وړاندیزونو اورېدنه یاده کړه.

هغه ټینګار وکړ چې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداره ژمنه ده چې د خپلو قانونی صلاحیتونو او دندو په چوکاټ کې به د وقایوی پروژو د پلې کېدو، د زیانمنو بېړنیو اړتیاوو د پوره کولو او د طبیعی پېښو او خطرونو د مدیریت د ښه والی په برخه کې هر اړخیزه همکاری وکړی.

وروسته د دې ولایت د مقام دفتر رئیس، د زیانمنو په برخه کې د یادې اداري له هڅو او رسېدنې څخه د قدردانۍ ترڅنګ د دې ولایت زیانمنېدو ته په اشارې سره وویل چې د زابل خلک د طبیعی پېښو له امله په لوړه کچه زیانمن دی او د بشردوستانه مرستو او وقایوی پروژو ته اړتیا لری.

ورپسې، یاد پلاوی د زابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست څخه لیدنه وکړه او د دې ریاست د چارو بهیر یې له نږدې وڅېړه. د لیدنې پر مهال، د پېښو چارو د همغږۍ معین له کارکوونکو سره خبرې وکړې، د دوی ستونزې او وړاندیزونه یې واورېدل، او د اسنادو او فعالیتونو د ارزونې ترڅنګ یې کارکوونکی د دندو د لایحې پر بنسټ د چټکو، پر وخت او اغېزمنو خدماتو وړاندې کولو ته وهڅول.

د یادونې وړ ده، چې یاد پلاوی په دغه ریاست کې خپل څارنیز او رهنمودی بهیر پیل کړ.

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداري او د ورلډ ویژن او اواک موسسو ترمنځ د ګډو همکاریو دوی تفاهم نامې لاسلیک شوې

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري لوی رئیس، محترم الحاج ملا نورالدین ترابی د اواک موسسې د مرکزی او ختیځ زون له مسوول، محترم عبدالوارث کریمی او په کابل کې د ورلډویژن موسسې له مسوول، محترم عبدالوهاب آرش سره جلا جلا د ۱۴۴۷ کال د ربیع الآخر ۱۲ نېټه په خپل کاری دفتر کې وکتل او د ګډو همکاریو تفاهم نامې یې ورسره لاسلیک کړې.
محترم ترابی صاحب په جلا جلا ناستو کې د یادو مؤسسو مسؤلین وهڅول، چې لا ډېرې او د خلکو د اړتیاوو په پام کې نیولو سره مرستې وړاندې کړی. نوموړی زیاته کړه چې د افغانستان خلک په بېلابېلو برخو کې مرستو ته اړتیا لری او موږ د خپلو ولایتی ریاستونو له لارې په ولایتونو کې د مؤسسو د اغېزمنو فعالیتونو لپاره زمینه برابره کړې ده.
ورته مهال، د دې موسسو مسؤلینو له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداره یوه ښه همکاره اداره وبلله او د دې اداري له کارکوونکو څخه یې د قدردانۍ ترڅنګ په شفافه او پر وخت د پروژو د پلی کولو ژمنه وکړه.
د یادونې وړ ده، چې د لومړۍ تفاهم‌نامې له مخې چې ټولټال د شپاړس میلیونه او اته سوه او درې پنځوس زره او پنځه پنځوس (۱۶،۸۵۳،۰۵۵) افغانیو په ارزښت د دې اداري او د اواک موسسې ترمنځ لاسلیک شوې، یاده موسسه به ۱۳،۲۶۶ کورنیو هرې یوې ته په سمنګان، بلخ، سرپل، فاریاب، بغلان، کندز، تخار او بدخشان ولایتونو کې د حفظ‌الصحې یوه بسته ووېشی او هغوی ته به د یو ورځنی روزنیز ورکشاپ له لارې د حفظ‌الصحې پوهاوی هم وړاندې کړی.
همدارنګه د دې اداري او د ورلډ ویژن موسسې ترمنځ ټولټال د دوه سوه او څلور دېرش زره او پنځلس (۲۳۴،۰۱۵) ډالرو په ارزښت د لاسلیک شوې تفاهم‌نامې له مخې به یاده موسسه ۵۹۸ کورنیو هرې یوې ته د درې میاشتو لپاره هره میاشت ۸۰ ډالر نغدې پیسې ووېشی. همدارنګه له دې جملې څخه یو شمېر کورنیو ته به د کانالونو او د اوبو د شبکو د پاکولو لپاره وسایل لکه بیل، کلنګ، پړی، لاسی ګاډی، شګه او سمنټ هم ووېشل شی او د "کار په بدل کې د نغدو پیسو" پروګرام به پلی شی.

د کابل ولایت په استالف ولسوالۍ کې د استنادی دېوال د جوړونې کار بشپړ او ګټې اخیستنې ته وسپارل شو

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري د لوی رییس الحاج ملانورالدین ترابی د لارښوونې له مخې، د کابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یاد ولایت د استالف ولسوالۍ په دهن ګذر کلی کې یو استنادی دیوال چې د جوړول چارې یې له وړاندې څخه پیل شوې وې بشپړې او د ۱۴۴۷ کال د ربیع الآخر ۱۲ نېټه په رسمی ډول ګټې اخیستنې ته وسپاره.
یاد دیوال د ۹۰ مترو په اوږدوالی، ۱.۵ متره سور او ۳.۳ متره لوړوالی د سېلابونو له زیانونو څخه د مخنیوی په موخه د نه سوه شپږڅلویښت زره او درې سوه او درویشت (۹۴۶،۳۲۳) افغانیو په لګښت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رئیس محترم الحاج مولوی نجیب الله انوری، د استالف ولسوالۍ د ولسوال او سیمه ییزو اوسېدونکو په شتون کې ګټې اخیستنې ته وسپارل شو.
د یادونې وړ ده، چې محترم انوری صاحب ګټه اخیستونکو ته د یادې پروژې د سم ساتلو په اړه لازمې سپارښتنې وکړې او په پای کې سیمه ییزو اوسېدونکو له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري او له یاد ریاست څخه مننه وکړه او خوښی یې څرګنده کړه.

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداري لوی رئیس د اداري د لا ښه والي لپاره د ټولو کارکوونکو وړاندیزونه واورېدل

په تېرو څو ورځو کې، له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري لوی رئیس، محترم الحاج ملا نورالدین ترابی د دې اداري د ټولو کارکوونکو طرحې، وړاندیزونه، ستونزې او نظرونه د رئیسانو له کچې څخه تر خدماتی کارکوونکو پورې په خپل دفتر کې په جلا جلا توګه واورېدل.

په دې لړۍ کې، د اداري لوی رئیس له هر کارکوونکی سره په جلا جلا ډول وکتل او په دقت سره د هغوی د نظرونو او ستونزو اورېدو ترڅنګ یې ټینګار وکړ چې په اداره کې باید لا اغېزمن، شفاف او مسؤل کاری چاپېریال رامنځته شی. د دې اقدام موخه د خدماتو د وړاندې کولو د بهیر ښه کول، د اداری او تخنیکی ظرفیتونو پیاوړتیا او په ټولو برخو کې د لا زیاتې همغږۍ رامنځته کول دی.

محترم ترابی صاحب څرګنده کړه، چې د کارکوونکو نظرونه او ګډون د چارو د اصلاحاتو او نوښتونو لپاره ځانګړې ارزښت لری او د اداري مشرتابه هڅه کوی چې ټولې برخې د اړتیاوو او کاری شرایطو پر بنسټ پیاوړې کړی. نوموړی زیاته کړه چې د کارکوونکو عملی او اغېزمن وړاندیزونه به د اداري په تګلارو، تطبیقی پلانونو او کاری نظام کې ځای ومومی.

د اداري کارکوونکو هم له دې بهیر څخه د خوښی څرګندولو ترڅنګ، په تخنیکی، اداری، د خدماتو وړاندې کولو، د تجهیزاتو برابرولو او د همغږۍ د ښه والی په برخه کې خپلې ځانګړې ستونزې او نظرونه شریک کړل او د اداري د مشرتابه له پاملرنې یې مننه وکړه.

د یادونې وړ ده، چې د اداري لوی رئیس، څه موده وړاندې هم ولایتونو ته د سفر پر مهال د دې اداري په ولایتی ریاستونو کې ورته پروګرام پلی کړی و او د ولایتی کارکوونکو وړاندیزونه یې هم اورېدلی وو.

تکمیل و بهره‌برداری پروژه دیوار استنادی در مرکز ولایت بامیان

پروژه دیوار استنادی/سیل‌بند در قریه دولت‌آباد ملاغلام از مربوطات مرکز ولایت بامیان توسط ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بامیان با حمایت مالی موسسه آقاخان برای اسکان (AKAH) تکمیل و بتاریخ ۱۳ ربیع الاخر سال ۱۴۴۷ هـ ق رسماً به بهره‌برداری سپرده شد.

در مراسم افتتاح و تسلیم‌گیری این پروژه، رئیس آمادگی مبارزه با حوادث بامیان، نمایندگان مقام ولایت، ریاست اقتصاد، و مسئولین موسسه AKAH حضور داشتند.

این پروژه به طول ۱۳۴ متر و با هزینه مجموعی ۱،۳۸۵،۸۹۲ (یک میلیونو سه صدو هشتادو پنج هزارو هشت صدو نودو دو) افغانی جهت جلوگیری از خطرات ناشی از سیلاب‌ها و حفاظت از منازل و زمین‌های زراعتی مردم محل اعمار گردیده است.

پروژه مذکور بخشی از برنامه کاهش خطرات حوادث طبیعی به شیوه مردم‌محوری است که توسط موسسه محترم AKAH و با نظارت ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بامیان تطبیق گردیده است.

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداري او د هستوګنې لپاره د آغاخان موسسه ترمنځ د (۲۹۲,۳۹۹) ډالرو په ارزښت د ګډو همکاریو تفاهم نامه لاسلیک سوه

له پېښو سره د مبارزې امادګۍ ملي اداري لوی رئیس الحاج ملا نورالدین ترابی د هستوګنې لپاره د آغاخان موسسې، رئیس راحت الله بیګ، حقوقی مسؤل عصمت الله عصمتی او اړیکو مسؤل شکرالله مدنی سره د ۱۴۴۷ کال د ربیع الآخر ۱۴ نېټه په خپل کاری دفتر کی وکتل.

ترابی صاحب د هستوګنې لپاره د آغاخان موسسه راغلی پلاوی ته د ښه راغلاست ترڅنګ وویل چی خوشاله یو چی نن یو داسی تفاهم نامه لاسلیک کوو چی په هغه سره زموږ زیاتمن اولس ته مرستی رسول کیږی او د دې موسسې د ټول کاری ټیم څخه یې مننه وکړه چی تل یې زموږ د زوریدلی اولس سره همکاری کړې ده.

همداراز ترابی صاحب د ژمی په رارسیدو سره یې د ټولو نړیوالو او داخلی مؤسیسو او سازمانونو څخه غوښتنه وکړه چی خپلی مرستی دی پر مستحقو کسانو وویشی.

د هستوګنې لپاره د آغاخان موسسې رئیس، راحت الله بیګ وویل چی پراختیایی شبکه یوه لویه پروژه او بنسټ دی او یاده شبکه په بیلابیلو برخو کی اولس ته خدمتونه وړاندی کوی.

ښاغلی بیګ زیاته کړل چی خوښ یو چی له پېښو سره د مبارزې امادګۍ ملی اداره زموږ کارونه بیله ځنډه راته خلاصوی دیادې اداري د لوی رئیس او دټول کار ټیم څخه یې ځانګړې مننه وکړل او ترڅنګ وویل چی دیادی اداري سره باید بیلابیل موسیسات او سازمانونه دطبعی او غیری طبعی پېښو لپاره مرسته وکړی ترڅو افغان اولس پر وخت د یادو مرستو څخه برخمن سی.

د یادونی وړه ده چی د دواړو لوریو ترمنځ د دوه سوه او دوه نوی زره او درې سوه او نه نوی (۲۹۲,۳۹۹) ډالرو په ارزښت د ګډو همکاریو تفاهم نامه لاسلیک سوه، چې له مخې به یې د بدخشان ولایت په اشکاشم، وردوج، زیباک، ارغنخواه، واخان، شغنان، شکی، نسی، کوف آب، مایمی، خواهان، جرم، یمګان، کران او منجان ولسوالیو کې ۴,۶۸۴ زیاتمنو سویو کورنیو، هرې کورنۍ ته په درېیو میاشتو کې ۳,۹۴۴.۲ متریک ټنه خوراکی توکی ، چې په هغه کې ۵۰ کیلو اوړه، ۴.۵۵ کیلو غوړ، ۰.۵۰ کیلو مالګه او ۶.۲۵ کیلو دال نخود شتون لری ووېشل سی.

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداري اوونیزه اداری غونډه ترسره شوه

د وزیرانو شورا د ۱۴۴۳/۵/۱۶نېټې د (۱۵) ګڼې مصوبې د ۱ مادې پر بنسټ، له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري اوونیزه اداری غونډه د دې اداري د سرپرست الحاج ملا نورالدین ترابی په مشرۍ او د مرکزی رئیسانو په ګډون د دې اداري په انګړ کې د ۱۴۴۷ کال د ربیع الآخر ۱۵ نېټه ترسره شوه.

غونډه د قران کریم د څو مبارکو آیتونو په تلاوت سره پیل شوه.

وروسته د اجنډا په هره موضوع په جلا جلا ډول هر اړخیزه بحث وشو او د غونډې د ګډونوالو نظرونه په وار سره راټول شول.

د غونډې په پای کې داجنډا پر ټولو موضاعوتو باندی لازم تصمیمونه ونیول سول.

د دایکندی ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۱۰۰ تنو ته د کار کولو په بدل کې نغدی مرستې وویشلې

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري او له لوږې سره د مبارزې (AHH) مؤسسې ترمنځ د لاسلیک شوی هوکړه لیک له مخې، د دایکندی ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې مؤسسې په مالی ملاتړ، د ۱۴۴۷ کال د ربیع الآخر ۱۱ نېټه د دې ولایت په اشترلی او میرامور ولسوالیو کې ۱۰۰ تنو ته د کارکولو په بدل کې نغدی مرستې وویشلې.
په دې لړۍ کې هرتن ته د مسؤلینو په شتون کې، ۸۰۰۰ افغانۍ وویشل شوې، چې ټولټال د یاد شمېر کورنیو لپاره اته سوه زره (۸۰۰،۰۰۰) افغانۍ ځانګړې شوې وې.
د یادونې وړ ده، چې یادو کسانو ته دا نغدی پیسې له طبیعی پېښو څخه د رامنځته کېدونکو خطرونو د مخنیوی د کړنو د ترسره کولو په بدل کې ورکړل شوې.

د کابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست په موسهی ولسوالۍ کې د یوه کانال پاکول پیل کړل

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري د لوی رییس، محترم الحاج ملا نورالدین ترابی د لارښوونو پر بنسټ، د ټولو ولایتونو له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاستونو ته دنده سپارل شوې ده، چې د ولایتی کمیټو د ماشینونو او د دې اداري د بودیجې په کارولو سره د احتمالی سېلابونو د مخنیوی لپاره په مختلفو سیمو کې د کانالونو او سیلېر لارو پاکول پیل کړی، د کابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د دې لارښوونې له مخې، د ۱۴۴۷ کال د ربیع الآخر ۱۱ نېټه په موسهی ولسوالۍ کې د عبدالرحیم زی کانال پاکول پیل کړل.
د دې کانال پاکول په رسمی ډول د دې اداري د ماشینونو او آسانتیاوو په کارولو سره د سیمه ییزو مسؤلینو او مشرانو په شتون کې پیل شول او ځایی خلکو د دې نوښت هرکلی وکړ او د مسؤلینو په ځانګړې توګه د دې اداري د رهبرۍ لپاره یې د خیر دعا وکړه.

ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت سرپل برای ۱,۲۳۲ خانواده آسیب‌دیده مواد غذایی توزیع کرد

به اساس تفاهم‌نامۀ امضاشده میان ادارۀ ملی آمادگی مبارزه با حوادث و مؤسسۀ ماهو که تمویل کننده پروژه آن برنامه جهانی غذای(WFP) میباشد، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت سرپل با پشتیبانی مالی این مؤسسه، پس از انجام سروی، بتاریخ ۱۱ ربیع الاخر سال ۱۴۴۷ هـ ق برای ۱۲۳۲ خانوادۀ آسیب دیده در ولسوالی بلخاب آن ولایت کمک‌های غذایی توزیع کرد.
در این روند و در حضور مسئولان مربوطه، برای هر خانواده یک بوری آرد ۵۰ کیلویی، ۵ لیتر روغن، ۶.۶ کیلو دال و نیم کیلو نمک توزیع شد.

د پکتیکا ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د ګومل ولسوالۍ ۲۵ کورنیو ته خوراکی مرستې وویشلې

د پکتیکا ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د دې ولایت په ګومل ولسوالۍ کې د ۱۴۴۷ کال د ربیع الآخر ۱۱ نېټه ۲۵ اړمنو کورنیو ته خوراکی مرستې وویشلې.

په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې، ۱ بورۍ ۵۰ کیلویی غنم او ۱ بورۍ ۲۵ کیلویی وریجې وویشل شوې.

د کابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست په کلکان ولسوالۍ کې یو ګبیونی دېوال ګټې اخیستنې ته وسپاره

د کابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د کلکان ولسوالۍ په قچې کلی کې د ۱۴۴۷ کال د ربیع الآخر ۱۱ نېټه د ۱۲۵ متره په اوږدوالی، ۲ متره پلنوالی او ۳ متره لوړوالی د یو ګبیونی دیوال د جوړولو کار بشپړ کړ او رسماً یې پرانیست.

دا پروژه له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې له لوری د اته سوه او یو اتیا زره او پنځه سوه او لس (۸۸۱,۵۱۰) افغانیو په لګښت تمویل شوې او د قراردادی شرکت له خوا بشپړه شوې، چې د دې ګبیونی دیوال په ګټې اخیستو سره به د سیمې اوسېدونکی په راتلونکې کې د سیلابونو له خطر څخه خوندی وی.

د پرانېستې مراسم د کابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رئیس، الحاج مولوی نجیب‌الله انوری، د کلکان ولسوال مرستیال، د ملک‌صاحبانو، د سیمې سپینږیرو او ځوانانو په شتون کې ترسره شول.

د کلی اوسېدونکو د دې پروژې له بشپړیدو خوښی څرګنده کړه او د اسلامی امارت او له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې له مشرتابه، په ځانګړی توګه د کابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست څخه قدردانی وکړه.

ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت نیمروز برای ورثه یک شهید کمک نقدی توزیع کرد

ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت نیمروز، در حضور معاون مالی و اداری مقام ولایت و هیأت همراه، برای ورثهٔ یک تن از شهید حادثه آتش‌سوزی در ولسوالی چهاربرجک، بتاریخ ۱۲ ربیع الاخر سال ۱۴۴۷ هـ ق مبلغ ۲۰۰۰۰ افغانی مساعدت نقدی توزیع نمود.

این کمک به منظور همدردی و رسیدگی به خانوادهٔ شهید، از سوی ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت نیمروز فراهم گردید.

د کابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۱۳۰ زیاڼمنو کورنیو ته خوراکی او غیر خوراکی مرستې وویشلې

د کابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د ولایت له محترم مقام سره په همغږۍ د یاد ولایت په سروبي ولسوالۍ کې د ورستیو بارانونو او سېلابونو له امله ۱۳۰ زیاڼمنو شویو کورنیو ته له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د ربیع الآخر ۱۲ نېټه د خوراکی او غیر خوراکی توکو مرستې وویشلې.

په دې لړۍ کې د مسؤلینو په شتون کې، هرې کورنۍ ته ۱ بورۍ ۵۰ کیلویی غنم، ۱ بورۍ ۲۵ کیلویی وریجې، یوه جوړه څپلۍ، درې جوړې جامې، ۱عدد ۱۰ لېټره د اوبو بشکه، شل پاکټه د ابو پاکولو ګولۍ او ۵ کلچې د لاس وینځلو صابون وویشل شو.

د یادولو وړ ده، چې دا توکی د کابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست له شته امکاناتو څخه د نقلیه وسایطو په واسطه ور ولېږدول شول، چې په ترلاسه کولو سره یې زیاڼمنو شویو کورنیو له اړوندو مسؤلینو څخه مننه او قدردانی وکړ.

د سرپل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۳۰۰ کورنیو ته نغدې مرستې وویشلې

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداري او د ماهو موسسې ترمنځ د لاسلیک شوی هوکړه لیک له مخې، چې د پروژې تمویل کوونکی یې د خوړو نړیوال پروګرام (WFP) دی، د سرپل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې موسسې په همکارۍ، د دې ولایت په سوزمه قلعه ولسوالۍ کې ۳۰۰ مستحقو کورنیو ته له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د ربیع الآخر ۱۳ نېټه نغدې مرستې وویشلې.

په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې، ۲,۹۰۰ افغانۍ وویشل شوې، چې ټولټال ۸۷۰,۰۰۰ (اته سوه او اویا زره) افغانۍ نغدې پیسې د یاد شمېر کورنیو لپاره ځانګړې شوې وې.

ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت پنجشیر کار ساخت یک دیوار محافظوی سنگ کاری و پاک کاری بستر سیلبر را در ولسوالی رخ آغاز کرد

بر اساس تفاهم نامه اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث با موسسه انکشاف و احیای مجدد دهات (ORDR) که تمویل کننده پروژه آن دفتر(DAHW) میباشد، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث با حمایت موسسه مذکور بتاریخ ۱۲ ربیع الاخر سال ۱۴۴۷ هـ ق کار ساخت کار ساخت یک دیوار محافظوی سنگ کاری و پاک کاری بستر سیلبر را در قریه میرخیل ولسوالی رخ آغاز کرد

این دیوار محافظوی که داری ۵۴ متر طول می‌باشد، سنگ تهداب آن، در حضور داشت محترم محب الله جاهد، رئیس آمادگی مبارزه با حوادث ولایت پنجشیر، ولسوال محترم رخه، نماینده ریاست محترم اقتصاد و جمعی از محاسن‌سفیدان و بزرگان محل گذاشته شد.

قابل ذکر است که افتتاح این دیوار محافظوی و پاک کاری بستر سیلبر از احجار و مواد رسوبی گام مهمی در راستای کاهش آسیب‌پذیری، مصون سازی ساحات آسیب‌پذیر و ارتقای توانمندی جامعه محسوب می‌شود.

د کابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست په پغمان ولسوالۍ کې د یوه مانده (خوړ) د پاکولو چارې بشپړې کړې

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري د لوی رئیس، محترم الحاج ملا نورالدین ترابی، د لارښوونې پر بنسټ، چې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ټولو ولایتی ریاستونو ته شوې وه، ترڅو د سیلاب د احتمالی خطر د مخنیوی په موخه په بېلابېلو سیمو کې د کانالونو او سیلابی لارو د پاکولو چارې له پېښو سره د مبارزې د ولایتی کمېټو د ماشینری په مرسته او د دې اداري په بودجې ترسره کړی، د کابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د همدې لارښوونې پر بنسټ، د ۱۴۴۷ کال د ربیع الآخر ۱۲ نېټه د پغمان ولسوالۍ د یوه مانده (خوړ) د پاکولو چارې چې مخکې یې پیل کړې وې، بشپړې کړې.
د یادونې وړ ده چې د سیمې اوسېدونکو د دې اقدام هرکلی کړی او ویې ویل، چې د دې پروژې په بشپړیدو سره اوس د سیلاب لاره خلاصه شوې او د باران په وخت کې کورونو او کرنیزو ځمکو ته د د مانده ځخه د اوبو د لوړېدو خطر کم شوی دی.

د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۱۵۸ زلزله ځپلو کورنیو ته غیرخوراکی مرستې وویشلې

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري او د DACAAR موسسې ترمنځ د لاسلیک شوی هوکړه لیک له مخې، د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې موسسې په مالی ملاتړ، د دې ولایت د دره نور ولسوالۍ په سګۍ، شوکیالی، شیرین قلعه، عمر قلعه، ملتک او شیمل کلیو کې د وروستۍ زلزلې له امله ۱۵۸ زیانمنو کورنیو ته له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د ربیع الآخر ۱۵ نېټه غیرخوراکی مرستې وویشلې.
د مرستې په دې لړۍ کې د حفظ الصحې او استهلاکی توکو کېټونه، چې ۳۳ کلچې د ځان منځلو صابون، ۱۴ کلچې د جامو منځلو صابون، د ښځو اړتیا وړ توکی ۸ بستې، د غاښونو ۱۴ برسونه، ۴ د غاښونو کریم، لاسی کڅوړه ۱ عدد او ۲ بوتل شامپو شامل وو، او یو د حفظ الصحی موادو ستندرد بسته، چې ۱۷ کلچې د ځان منځلو صابون، ۷ کلچې د جامو منځلو صابون ۷ دانې، ۱ عدد صابون دانۍ، ۱ عدد پلاستیکی بوشکه، ۱ عدد ۱۰ لیتره پلاستیکی سطل، ۱ عدد لوټکه، ۲ تختې ۲ متره د کتان ټوکر، ۳ عدده د غاښونو برسونه، ۶ عدد د غاښونو برسونه، ۲ عدد د غاښونو کریم، ۱ لاسی جارو ۱، ۵ عدد مخ پاک، ۱ عدد پلاستیکی تشت، د روغتیا ساتنی د زده کړی توکی ۱ بسته، ۱ عدد لاسی کڅوړه، ۱ عدد لاسی څراغ، ناخن ګیر ۱ دانه، د ښځو اړتیا وړ توکی ۱۰ عدده، ۲ بوتل شامپو شامل وو، یاد شمېر هرې کورنۍ ته ووېشل شول.
د یادونې وړ ده، چې د مرستو ترلاسه کوونکو کورنیو د مرستو ترلاسه کولو په پار له یادې موسسې او د دې ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست له مسؤلینو څخه مننه او قدردانی وکړه.

د کابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۱۳٦ زیاڼمنو کورنیو ته خوراکی او غیر خوراکی مرستې وویشلې

د کابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د ولایت له محترم مقام سره په همغږۍ د یاد ولایت په میربچه کوټ او کلکان ولسوالیو کې د ورستیو بارانونو او سېلابونو له امله ۱۳٦ زیاڼمنو شویو کورنیو ته له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د ربیع الآخر ۱۲ نېټه د خوراکی او غیر خوراکی توکو مرستې وویشلې.

په دې لړۍ کې د مسؤلینو په شتون کې، هرې کورنۍ ته ۱ بورۍ ۵۰ کیلویی غنم، ۱ بورۍ ۲۵ کیلویی وریجې، یوه جوړه بوټ، درې جوړې جامې، ۱عدد ۱۰ لیټره د اوبو بشکه، شل پاکټه د ابو پاکولو ګولۍ او ۵ کلچې د لاس وینځلو صابون وویشل شو.

د یادولو وړ ده، چې دا توکی د کابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست له شته امکاناتو څخه د نقلیه وسایطو په واسطه ور ولېږدول شول، چې په ترلاسه کولو سره یې زیاڼمنو شویو کورنیو له اړوندو مسؤلینو څخه مننه او قدردانی وکړ.

کشف و خنثی‌سازی یک مرمی انفجاری در ولایت پکتیکا

ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت پکتیکا با هماهنگی مؤسسه بین‌المللی ماین‌پاکی هیلوترست، در عملیات انجام شده در قریه شمس‌الدین چینی ولسوالی شکین، یک حلقه مرمی انفجاری نوع ۴۰ میلی‌متری (Grenade) را بتاریخ ۱۳ ربیع الاخر سال ۱۴۴۷ هـ ق کشف و با موفقیت خنثی نمود. این مرمی انفجاری که از درگیری‌های گذشته به جا مانده بود، جان و مال باشندگان محل را در معرض خطر قرار داده بود که پس از خنثی‌سازی آن، از وقوع تلفات و خسارات احتمالی جلوگیری به عمل آمد.

د بلخ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۹ زیاڼمنو شویو کورنیو ته د خوراکی او غیر خوراکی توکو مرستې وویشلې

د بلخ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د IOM او SFL-WFP سازمانونو په همغږۍ، د دې ولایت د شورتپه ولسوالۍ په اریغ باتور کلی کې د آمو سیند د اوبو د زیاتوالی له امله ۹ زیاڼمنو شویو کورنیو ته له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د ربیع الآخر ۱۳ نېټه د خوراکی او غیر خوراکی توکو مرستې وویشلې.

په دې لړۍ کې د مسؤلینو په شتون کې، د IOM سازمان له لوری هرې کورنۍ ته ۱ تخته ترپال، ۱ عدد سولری څراغ، ۱ کورنۍ بسته، ۱ د کمپلو بسته، ۱ باب خېمه او د SFL-WFP سازمان لخوا هرې کورنۍ ته ۲۰۰ کیلو اوړه، ۲۰ لیټره غوړی، ۲۵ کیلو دال نخود، ۲ کیلو مالګه او ۲.۱ کیلو بیسکویټ وویشل شول.

کشف و خنثی‌سازی مواد منفجر ناشده در ولایت لوگر

ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت لوگر، در هماهنگی با مؤسسه بین‌المللی ماین‌پاکی هیلوترست، در منطقه آبچگانِ دشتِ مرکز این ولایت شهر پل علم عملیات انجام داد. در نتیجه این عملیات، ۱۵۰ گرام مواد انفجاری، چهار عدد پتاقی آتش بازی و چهار متر فتیله ثانیه‌سوز را بتاریخ ۱۳ ربیع الاخر سال ۱۴۴۷ هـ ق کشف و به‌گونه مصوون خنثی گردید.
مواد یادشده که از درگیری‌های گذشته به‌جا مانده بود، جان و مال باشندگان محل را با خطر روبه‌رو کرده بود که با خنثی‌سازی آن، از بروز تلفات احتمالی جلوگیری شد.

د بدخشان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۸۵ اجباری راستنېدونکو کورنیو ته خوراکی او غیر خوراکی مرستې وویشلې

د بدخشان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یاد ولایت په مرکز فیض آباد کې ۸۵ اجباری راستنېدونکو کورنیو ته له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د ربیع الآخر ۱۳ نېټه د خوراکی او غیر خوراکی توکو مرستې وویشلې.
په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې، ۲ بورۍ ۵۰ کیلویی اوړه، ۲ بورۍ ۲۵ کیلویی وریجې، د ماشومانو یو بلوز جامې، یو عدد توپ، یو د نارینه زیر پوښ جامې، یو جوړ جرابې، ۲ جوړه ګازی چپلکې، یو د ماشومانو زیر پوښ جامې، یو باب خېمه، یوه تخته ګازی بړستن او دوه عدده دسته کلند وویشل شول.

د نورستان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۶۷۶ اړمنو کورنیو ته د خوراکی توکو مرستې وویشلې

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري او د HDDO مؤسسې ترمنځ د لاسلیک شوی هوکړه لیک له مخې، د نورستان ولاست له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې مؤسسې په مالی ملاتړ، د دې ولایت په برګمتال ولسوالۍ کې ۶۷۶ اړمنو کورنیو ته له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د ربیع الآخر ۱۶ نېټه د خوراکی توکو مرستې وویشلې.
په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته مسؤلینو په شتون کې، ۱۰۰ کیلو اوړه، ۸ لیټره غوړی، ۸ کیلو دال او دوه پاکټه مالګه وویشل شوه.
د یادونې وړ ده، چې د مرستو ترلاسته کوونکو کورنیو له اړوندو مسؤلینو څخه له هغوی سره د دوامداره مرستو د کولو په پار مننه وکړه.

د بغلان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست په ډنډی غوری ولسوالۍ کې د یو پلچک د جوړولو چارې پیل کړې

د بغلان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست، د ډنډی غوری ولسوالۍ د بغلان او مزارشریف په عمومی سړک د خواجه الوان په سیمه کې د ۱۴۴۷ کال د ربیع الآخر ۱۴ نېټه د یو پلچک د جوړولو چارې د ۳.۹ مترو په اوږدوالی، ۲.۶۰ مترو لوړوالی، ۱.۵ متره سور او د ۸۸۷.۹۱۶ متره حجم په درلودلو سره پیل کړې.

دا پروژه د سېلابونو د خطرونو او زیانونو کمولو، د هستوګنیزو کورونو او د کرنیزو ځمکو د ساتنې په موخه د یو میلیون (۱،۰۰۰،۰۰۰) افغانیو په لګښت، د عالیقدر امیر المؤمنین حفظه الله د حکم پر بیسټ، له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري له لوری تمویل او د قراردادی شرکت له لوری پیل شوه.

د یادونې وړ ده، چې د یاد پلچک د پرانستنې په مراسمو کې د ولایت مقام محترم مرستیال، د ټولګټو ریاست محترم رئیس، له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست محترم رئیس او یو شمیر نورو سیمه ییزو مسؤلینو شتون درلود، چې له امله یې ځایی اوسېدونکو خوښی څرګنده کړه او له یادو مسؤلینو څخه یې مننه وکړه.

کشف و خنثی‌سازی شش حلقه ماین در مرکز ولایت زابل

ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت زابل، با همکاری تیم تخنیکی مؤسسه ماین‌پاکی دافا(DAFA)، شش حلقه ماین دست‌ساخت را در قریه جاروالله، مرکز شهر قلات ولایت زابل بتاریخ ۱۴ ربیع الاخر سال ۱۴۴۷ هـ ق کشف و به گونه مصوون خنثی نمود.

ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت زابل از باشندگان محل خواست تا در صورت مواجهه با موارد مشابه، فوراً با این ریاست در تماس شوند تا از خطرات احتمالی جلوگیری شده و جان و مال آنان در امان بماند.

د فاریاب ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۱۴۸ کورنیو ته د شلټر(کور) جوړولو او ترمیم لپاره نغدي مرستې وویشلې

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري او د DAART موسسې تر منځ د لاسلیک شوی هوکړه لیک له مخې، د فاریاب ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې موسسې په ملاتړ، ۱۴۸ کورنیو ته چې کورونه یې په بلچراغ ولسوالۍ کې د پېښو له امله ویجاړ شوی وو، د شلټر(کور) جوړولو او ترمیم لپاره د ۱۴۴۷ کال د ربیع الآخر ۱۶ نېټه نغدي مرستې وویشلې.

په دې لړۍ کې د سیمه ییزو مسؤلینو په شتون کې، له یادې جملې ۶۴ کورنیو هرې یوې ته د درې خونو د کور (شلټر) جوړولو لپاره ۷۰،۰۷۴ افغانۍ، ۶۴ کورنیو هرې یوې ته د دوو خونو کور جوړولو لپاره ۵۳،۵۶۰ افغانۍ، ۱۲ کورنیو هرې یوې ته د اساسی ترمیم لپاره ۱۴،۷۱۰ افغانۍ او ۸ نورو کورنیو هرې یوې ته د جزئی ترمیم لپاره ۸،۸۳۰ افغانۍ وویشل شوې.

د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۱۲۷ زلزله ځپلو کورنیو ته د غیر خوراکی توکو مرستې وویشلې

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري او د DACAAR موسسې ترمنځ د لاسلیک شوی هوکړه لیک له مخې، د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې موسسې په مالی ملاتړ، د دې ولایت د دره نور ولسوالۍ په کشوند قلعه، پا چا قلعه او لام کنډه کلیو کې د وروستۍ زلزلې له امله ۱۲۷ زیانمنو شویو کورنیو ته له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د ربیع الآخر ۱۶ نېټه د غیر خوراکی توکو مرستې وویشلې.

په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې، یوه د استهلاکی موادو بسته چې پکې ۳۳ کلچې د ځان مینځلو صابون، ۱۴ کلچې د جامو وینځلو صابون، ۸ بستې د ښځو د اړتیا وړ توکی، ۶ عدده غټ د غاښونو برسونه، ۸ عدده واړه د غاښونو برسونه، ۴ عدده د غاښونو کریم، ۱ عدد لاسی کڅوړه او همد ۲ بوتله شامپو او همدارنګه یو د حفظ الصحی ستندرد بسته، چې ورپکې ۱۷ کلچې د ځان مینځلو صابون، ۷ کلچې د جامو مینځلو صابون، ۱عدد صابون دانی، ۱ عدد پلاستیکی بشکې، ۱ عدد ۱۰ لیتره پلاستیکی سطل،۱ عدد لوټکه، ۲ تختې کتان تیکه ۲ متر مربع، ۳ عدده د غاښونو غټ برسونه، ۴ عدده د غاښونو واړه برسونه واړ، ۲ عدده د غاښونو کریم، ۱ بسته جارو، ۵ تختې روی پاکونه، ۱ عدد پلاستیکی تشت، ۱ بسته د روغتیا ساتنی د زده کړې توکی، ۱ عدد لاسی کڅوړه، ۱ عدد لاسی څراغ، ۶ عدده زیرپوش د ښځو لپاره، ۱ عدد ناخن گیر، ۴ بستې د ښځو د اړتیا وړ توکی، ۲ بوتله شامپو او یو عدد د ماشومانو پت شتون درلود وویشل شو.

د یادونې وړ ده، چې د مرستو ترلاسه کوونکو کورنیو د مرستو د ترلاسه کولو په پار له یادې موسسې او د دې ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست له مسؤلینو څخه مننه وکړه او خوښی یې څرګنده کړه.

کار ساخت یک دیوار استنادی در ولسوالی خاک‌جبار ولایت کابل آغاز شد

به اساس هدایت الحاج ملا نورالدین ترابی، رئیس عمومی اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت کابل کار ساخت این دیوار استنادی را در قریه برملک ولسوالی خاک جبار، بتاریخ ۱۵ ربیع الاخر سال ۱۴۴۷ هـ ق با حضور رئیس محترم آمادگی مبارزه با حوادث ولایت کابل، معاون ولسوال، علما، متنفذین، ریش‌سفیدان و سایر مسئولین مربوطه آغاز کرد.

این دیوار به طول ۹۸ متر، به هدف حفاظت جانی و مالی ساکنان محل از خسارات ناشی از سیلاب‌ها، به هزینه نه‌صد و بیست و دو هزار و نه‌صد و شصت(۹۲۲،۶۹۰) افغانی توسط یک شرکت ساختمانی آغاز شده است.

شایان ذکر است که در پایان، ساکنان محل از آغاز این پروژه ابراز خوشحالی نموده و برای دوام و ثبات نظام دعا کردند.

د کابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست په موسهی ولسوالۍ کې د استنادی دېوال د جوړولو کار پیل کړ

د عالیقدر امیر المؤمنین حفظه الله د لارښوونې پربنسټ، د کابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د موسهی ولسوالۍ په سربند سفلی کلی کې، د ۵۰ متره اږدوالی او ۵ لوړوالی په درلودلو سره د یو استنادی دیوال د جوړولو چارې، چې ټمویلوونکې یې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداره ده، د نه سوه او اوه ویشت زره او پنځه سوه (۹۲۷،۵۰۰) افغانیو په ارزښت د ۱۴۴۷ کال د ربیع الآخر ۱۶ نېټه پیل کړې.
د یاد استنادی دیوال د پرانستنې مراسمو کې، د کابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست، محترم رئیس، د موسهی ولسوالۍ مسؤلینو، مخورو سین ږیرو او اړوند مسؤلینو شتون درلود، په دې مراسمو کې، له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ محترم رئیس وویل، دا پروژه په راتلونکی کې د سېلابونو له زیانونو او خطرونو څخه د خلکو د ځان او مال د خوندیتوب په موخه ترسره کېږی.
په پای کې د سیمې خلکو د یادې پروژې د پلی کېدو په موخه خوښی څرګنده کړه او د دې نظام د بقا او ثبات لپاره یې د خیر دعا وکړه.

په پکتیکا ولایت کې ۱۴ بېلا بېل ډول ناچاوده توکی کشف او خنثی کړل شول

د پکتیکا ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د هغمرۍ له مخې، د هیلو ټرسټ ماین پاکۍ نړیوالې موسسې د یاد د شکین ولسوالۍ په شمس الدین چینی کلی کې ۱۴ بېلا بېل ډول ناچاوده توکی د ۱۴۴۷ کال د ربیع الآخر ۱۶ نېټه کشف او په خوندی ډول له منځه یووړل.
دا ناچاوده توکی له تېرو جګړو پاتې شوی وو او د کارولو وړ نه وو، خو د سیمې د خلکو لپاره یې ګواښ رامنځته کړی و چې د ماین پاکی عملیاتو په ترسره کولو سره په خوندی ډول له منځه یووړل شول او د خلکو ځان او مال خوندی پاتې شول.

د سرپل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۵۷۹ کورنیو ته نغدې مرستې ووېشلې

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې او د ماهو موسسې ترمنځ د لاسلیک شوی هوکړه لیک له مخې، چې د پروژې ټمویل کوونکی یې د خوړو نړیوال پروګرام (WFP) دی، د سرپل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې موسسې په همکارۍ، د دې ولایت په سانچارک ولسوالۍ کې ۵۷۹ مستحقو کورنیو ته له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د ربیع الآخر ۱۶ نېټه نغدې مرستې ووېشلې.
په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې، ۲,۹۰۰ افغانۍ ووېشل شوې، چې ټولټال ۱,۶۷۹,۱۰۰ (یو میلیون او شپږ سوه نه اویا زره او سل) افغانۍ نغدې پیسې د یاد شمېر کورنیو لپاره ځانګړې شوې وې.

ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت کابل کار ساخت یک دیوار استنادی را در ولسوالی چهارآسیاب آغاز کرد

بر اساس هدایت عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه‌الله، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت کابل در قریه شاه‌توت ولسوالی چهارآسیاب، کار ساخت یک دیوار استنادی به طول ۹۰ متر و ارتفاع ۳ متر را بتاریخ ۱۶ ربیع الاخر سال ۱۴۴۷ هـ ق آغاز کرده است. تمویل این پروژه از سوی اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث صورت می‌گیرد و ارزش آن نه‌صد و شش‌هزار و یک‌صد و بیست و هشت(۹۰۶,۱۲۸) افغانی می‌باشد.

در مراسم افتتاح این پروژه، رئیس محترم آمادگی مبارزه با حوادث ولایت کابل، معاون محترم ولسوال چهارآسیاب، بزرگان، ریش‌سفیدان و سایر مسئولین مربوط حضور داشتند. در این مراسم، رئیس محترم آمادگی مبارزه با حوادث گفت که این پروژه با هدف حفاظت از جان و مال مردم در برابر خطرات و خسارات احتمالی سیلاب‌ها در آینده تطبیق می‌گردد.

قابل یادآوری است که در پایان، باشندگان محل از آغاز این پروژه ابراز خرسندی نموده و برای بقای نظام و تأمین ثبات، دعای خیر کردند.

عامه پیغامونه :

1. د زلزلې څخه وروسته ژر تر ژره د ټپیانو سره مرسته وکړئ
2. همیشه د هر ډول طبیعی او غیرطبیعی پېښو د خطرونود مخنیوې لپاره چمتو اوسئ
3. خیر د خلګو هغه څوک دې چی خلګو ته خیر رسوې (الحدیث)
4. د سېلاب راوتلو په وخت کې د اوبو د جریان څخه لوړ او خوندی ځای ته ځان ورسوئ